د کووېډ-19 په اړه ټول هغه کلیدي معلومات چې تاسې ورته په یو نظر کې ضرورت لرئ.

**د کووېډ-19 په اړه معلومات – دری، پښتو**

## نور معلومات

د کووېډ-19 اړوند معلومات

د اتریش د ادغام صندوق (ÖIF)

## د کووېډ-19 واکسین

د کرونا وایرس ناروغۍ سره د مبارزې په برخه کې واکسین کول ترټولو مهم ګام دی. واکسین کول په کووېډ-19 باندې د اخته کېدو خطر راکموي او د دې ناروغۍ د شدید کېدلو په مخنیوي کې مرسته کوي.

د برني اتریش ټول هغه مېشت کسان چې عمر يې *12 یا له دې څخه لوی وي کولای شي د کووېډ-19 د واکسینو د ترلاسه کولو لپاره د ooe-impft.at د ملاقات اخیستلو برنامې له طریقه ملاقات واخلي.

په برني اتریش کې تقریبا 600 عمومي ډاکټران هم په طبیعي ډول د واکسینو د چمتو کولو لړۍ ته دوام ورکوي. مېندوارو ښځو، له جدي خطر سره مخ ناروغانو او په مشخص ډول لوی عمره کسانو ته توصیه کېږي چې د بېړني ضرورت په اساس خپلو عمومي ډاکټرانو سره په اړیکه کې شي. دا ډاکټران د خپلو ناروغانو د صحي وضعیت سره ډېر آشنا دي. په برني اتریش کې شاوخوا 100 کمپنۍ هم خلکو ته واکسین ورانديې کوي.

*د اروپا د درملو ادارې (EMA) د تأییدۍ پر بنسټ، د اتریش د واکسینو ملي کمېټه (NIG) له 12 تر 15 کالو عمر لرونکو وګړو ته د Pfizer/BioNTech د واکسینو د تطبیق سپارښتنه کوي. د همدې لپاره په برني اتریش کې 12 کلنو او د پورته عمر لرونکي وګړو لپاره هم واکسین موجود دي.

## نور معلومات

د فدرالي اتریش د ټولنیزو چارو، روغتیا، پاملرنې او د مصرف کونکو د مصؤنیت وزارت تاسې ته د کرونا وایرس په اړه یو لړ مهم معلومات چمتو کوي.

## د کرونا وایرس په اړه معلومات

که چېرې تاسې لا هم جرمني ژبه زده کوئ، د اتریش د ادغام صندوق (ÖIF) کارکوونکي به ستاسې سره ستاسې انتخاب کړې ژبې په برخه کې  نه یوازې په مخامخ ډول، بلکې د تلفون له لارې هم مرسته وکړي. دوی به ستاسې سره ستاسې د اندېښنو په اړه خبرې وکړي او تاسې ته به په ګڼو برخو کې معلومات درکړي.

## د اتریش د ادغام صندوق: د ګڼو-ژبو د معلوماتو خدمتونه – آیا تاسې په کومه بهرنۍ  ژبه معلوماتو ته اړتیا لرئ؟

دا اپلیکېشن د کووېډ-19 په اړه مختلف تلویزوني محتویات ستاسې د خوښې ژبې ته ژباړي.

**uugot.it: د کووېډ-19 په اړه ژباړل شوي اعلانات**